# خلک به د قیامت په ورځ لوڅې پښې، بربنډ او ناسنته راپورته کړی شي

له عائشة بنت أبي بکر رضی الله عنها څخه روایت دی وایې چې : ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: «خلک به د قیامت په ورځ لوڅې پښې، بربنډ او ناسنته راپورته کړی شي» ماوویل: اې د الله رسوله! ښځې او سړي به یو بل ته ګوري؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې عائشې! حالت به لدې ډېر سخت وي چې خلک یو بل ته وګوري».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم د قیامت د ورځې ځینې حالتونه بیان کړل: او دا چې خلک به له قبرونو راپاڅول شي او د حساب لپاره به راټول کړی شي، په داسې حال کې چې پښې به یې لوڅې وي، او بربنډ به وي کالي به نه لري، او ناسنته به وي لکه مور چې زیږولی و، کله چې أم المؤمنین عائشې رضي الله عنها دا خبره واورېده، نو په حیرانتیا سره یې وویل: اې د الله رسوله! آیا ښځې او سړي به ټول یو بل ته ګوري؟! نو نبي صلی الله علیه وسلم ورته روښانه کړه چې د قیامت د راټولېدو حالت او له مرګه وروسته راپورته کېدل دومره سخت او وېروونکي دي چې خلک به دومره بوخت وي، چې د یو بل عیبونو ته د کتلو فرصت به نه لري.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5460

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee